# ستوري مهالنی

## دیارلسمه ګڼه

## ۲۰۱۷ ع کال




# Stori Magazine

## 13th Issue Mar-Apr. 2017

# ستوری Stori

خپلواکه، کولتوري او ادبي خپرونه

لسم کال ، دیارلسمه گڼه، مارچ - اپریل ۲۰۱۷/ حمل- ثور ۱۳۹۶

**د امتیاز خاوند**

د خاص کونړ ادبي او کلتوري ټولنه

**مسوول مدير**

عرفان ا لله کوټوال 0772931465

**مرستیال**

هدایت ا لله حیات 0774322484

**کتنپلاوی**

څېړندوی وجیه ا لله شپون،

څېړندوی عبد القیوم زاهد مشوانی

څېړندوی عبد الظاهر شکېب

**چاپ ځای**

هیواد صافي مطعه ، ننگرهار- افغانستان

E-mail:hewadpress.ngr@gmail.com

**کلنۍ ګډونبیه**

افغانستان کې: ۲۰۰ افغانۍ

پاکستان کې: ۲۵۰۰ کلدارې

په نورو هېوادونو کې:۵۰ امریکایي ډالر

**دیوې ګڼې بیه:**

افغانستان کې: ۲۵ افغانۍ

پاکستان کې ۳۰ کلدارې

( ستورى) ستاسو خپرونه ده ، ستاسې لیکنې نیو کې او وړاندیزونه په ورین تندي منې.

اداره

**لړلیک**

| شمره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سر لیکنه | ۱ |
| ۲ | کورودانی | ۲ |
| ۳ | د رسول ا لله صلي ا لله علیه وسلم | ۳ |
| ۴ | د شمار سړي د کار سړي | ۵ |
| ۵ | د حجرې یادونه | ۱۲ |
| ٦ | نصحیتونه | ۱۴ |
| ۷ | اې لر او بر پښتنو!!! | ۱۵ |
| ۸ | ستورو کاروان | ۱۷ |
| ۹ | اداره او داداري په اړه | ۲۲ |
| ۱۰ | روحی بی خودی | ۲۵ |
| ۱۱ | سلام دې راغلی ته رانه غلی | ۲٦ |
| ۱۲ | د خاص کنړ د ډاکټر کبیر ستوري | ۲۷ |
| ۱۳ | ټکنالوژي د موبائیل حکومتداري | ۲۸ |
| ۱۴ | شونتی | ۳۰ |
| ۱۵ | افغانستان او د ستر احمد شاه | ۳۲ |
| ۱٦ | دپښتو ژبې لومړي شاعر امیر کروړ | ۳٦ |
| ۱۷ | عبد الحمید بابا پیژند گلوی | ۳۷ |
| ۱۸ | د خوانیمرگ خاطر افریدي | ۴۱ |

خبرتیا:
دستوري مجلې اداره له خپلو ټولو لوستونکیو څخه هیله کوي، چې د مجلې په هکله خپل وړاندیزونه او لیکنې د ادارې په پته راواستوي، لر خو موږ د لوستونکیو په وړاندې وړ د مجلې لکنې کړه او بشپړې کړو . مننه



# سر لیکنه

د معاملاتو مالګه

د نن ورځې د معاملاتو د مزي د جوړولو لپاره یو کرکتر انتخاب شوي چې: (د صلاحیت د ناوړه کارولو په پرده کې د خپل مسؤلیت نیمګړتیا پناه کول دي.) که هغه په رسمیاتو کې وي شخصیاتو کې وي او که په معاملاتو کې هر څوک غواړي چې خپلې نیمګړتیاوې پټې کړي یو بلې ناروا ته لاس اوږدوي چې د خپل واک په ناوړه چلولو لاس پورې کوي چې ژوندې بیلګې ئې زمونږ په رسمي ادارو او شخصي معاملاتو کې او د ژوندانه په هر اړخیزه کناره کې چې مسؤلیت لري حقیقت ئې تیزندی (پلواخه) کړي دي او مسؤلین د خپلو نیمګړتیاوو د پټولو لپاره بل ډول ځرګندوني کوي چې د عام وګړو به سترګو کې خاوره واچوي. که عاقل مسؤلین په سړو مغزو او ارامو غوږونو خپلې نیمګړتیاوې په تعاقل او تدبر سره واوري او د اصلاح هڅه ئې وکړي جامعه به اصلاح شي او عین وخت کې به د ژوندانه په ټولو برخو کې پرمختګ راشي، حسدونه، کیني او منفي فکرونه به رو رو له منځ څخه لاړ شیځاي به ئې مینه، ټولنیزوالي او پرمختګ ونیسي د ستوري اداره په هیواد او سیمه کې یووالي، مینه، متقابل احترام، پرمختګ او سولې او ورور ولي غوښتونکي ده او غواړي چې ټول وګړي همدغه ارزښتونه په پام کې ونیسي چې د زماني د کاروان څخه وروسته پاتي نشو او سیال ورسره ځان منځل ته ورسوو.

په درنښت

اداره







# کورودانی

د لیکنو د لړئ پدغه پړاؤ کې د یو تن ښاغلي الحاج حشمت ا لله (بریالي) رضا څخه نړۍ مننه کو وچې د ستوري مجلې د (۱۳) ګڼې د چاپ لګښت ته ئي اوږه ورکړه او بیا ئي د ستوري مجلې مېنه والو ته دغه ډالۍ لاسونو ته وروا ستوله د ستوري د مجلې اداره ئي دغه هڅي ستائي او مالي بوج ئي د جاریه صدقي برخه بولي په آینده کې هم هر رسنیز بنسټ سره د همکاري په هیله ورڅخه ښاد آباد او ژوندي دي وي.

اداره





لیکنه: الشیخ مولانا منیب الله (رحمتی)
د باڼدي جامع مسجد خطیب

# د رسول ا لله صلي ا لله علیه وسلم اعلیٰ اخلاق

الحمد الله رب العالمین والصلواة والسلام علي سیدنا محمد و اله و اصحابه اجمعین

امابعد:

ګرانو لوستونکو پدي بحث کې د محمد رسول الله (ص) د ښایسته اخلاقو تذکره ذکر کوم ځکه اخلاق د یو انسان لپاره تر ټولو لویه سرمایه ده او هم د انسانیت ښکلا ده که یو انسان هر څومره ښایسته شي سرمایه دار شي او د اخلاقو کمښت ولري د خلکو د نظره غورځیږي.

نو پدي باید پوهه شو چې دغه ښایسته او اوچت اخلاق د قران کریم څخه زده کیږي د عایشي رضي الله تعالي عنها څخه تپوس وشو د رسول الله صلي الله علیه وسلم د اخلاقو په باره هغه ورته وویل: کان خلقه القران (مسند احمد) د رسول الله صلي الله علیه وسلم مبارک اخلاق قران وو د رسول الله صلي الله وعلیه وسلم د اخلاقو په باره کې مخکنیو اسماني کتابونو کې هم تذکره موجوده وه، عطا بن یسار (رح) فرمایي: زه د عبدالله بن عمرو بن العاص سره ملاو شوم نو ما د هغي سوال وکړو چې ماته د رسول الله (ص) د خلاقو په باره کې د تورات څخه بیان کړه هغه راته وویل: لیس بفظ ولا غلظ ولا سخاب با الاسواق ولا یدفع السیة بالسیة ولاکن یعفو و یصفح ترجمه: رسول الله صلي الله علیه وسلم نه بد اخلاقه وو او نه بد مزاجه او به بازارونو کې په اوچت اواز خبري کونکي او د بدی جواب به ئي په بدی نه ورکوه بلکه عفوه او درګذري به ئي کوله(بخاري شریف).

انس بن مالک (رض) وائي ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم سره لس کاله خدمت وکړ خو رسول الله صلي الله علیه وسلم کې داسي صفات نه وو چې هغه د عیب نه ډک وي لکه فرمائي: لم یکن رسول الله سبابا ولا فحاشا ولا لعاناً.

ترجمه: رسول الله صلي الله علیه وسلم نه وو کنځل کوونکي نه بي حیا خبري کوونکي نه په چا لعنت ویونکي غرض دا چې غوره انسان هغه چې د هغي اخلاق ښایسته وي حضرت صفیه بنت حیي (رض) فرمایي

ما ندي لیدلیو کس د ښایسته اخلاقو واله بغیر د رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه یعني رسول الله د اخلاقو په مرتبه کې د هر چانه اوچت وو ایمان واله به هم کوشش کوي چې خپل اخلاق د قران او سنت مطابق برابر کړي تر څو متبع د پیغمبر (ص) وګرځي او هم د قران او حدیث په رنګ رنګ شي اوس ستاسي په وړاندې یو څو نموني د اخلاقو د رسول الله صلي علیه وسلم څخه ذکر کوو

1 جود او سخاوت: رسول الله صلي الله علیه وسلم کې د انفاق او ورکړې ماده په زیاد مقدار موجوده وه جابر بن عبدالله بیان کوي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه سوال ندي شوي د یو څه شي چې هغې پکې انکار کړي وي ابن شهاب بیان

پاچا، ملک عمراخان، د غني خان د باندي څخه حاجي عبدالغني خان، ملک محمد صديق خان د چاره کی د کلي څخه حاجي صاحب ميرزا محمد جان او سيد طاهر جان، سيد بابا خان پاچا، د لوټانو څخه ملک محمد جان، حاجي محمد عبدالله، حاجي ملک خشک، د کنډرو کلي څخه حاجي صاحب فراز خان، ملک عبدالله نصير خان، چيندراوو څخه قاضي صاحب سيد حسن خان او حاجي صاحب محمد حسن خان، منګوال څخه ملک امانت جان، او محمد يوسف خان، محمد سردار، او وکيل محمد عمر خان، د ملک عبدالجليل او داسي نورو زمونږ سپين ګيري وو. د يادولو وړه دي د ميتي مشهور مخور قومي مشران مراد خان او ديدار خان د قوميت په حساب به هميشه د دغه حاجيانو کورته راتلل او همدارنګه حاجي عبدالخالق مومند چي د قوم مشر وو او دوي خپلوان هم وو د افغانستان حکومت به ورسره مرستي کولي چي دوي ټولو مشرانو ته به ټول کلي او ولسوالی قدر او احترام ورکاوه.

اولين پل به ۱۳۴۵ کال کي د کونړ په سيند باندي د خپلي شخصي سرمايي نه پل وه تړه چي د دي پله نه ډيرو زياتو کونړيانوګټه اخيسته او دوي به د خپلو پايکو ګانو او ژرندي له پاره چي په کي کشميريانو شولي تکولي هم اخيسته

حاجي خداي رضا خپل عزتمند ولس سره د دوي په مشري د چارمنګ جنګ کي د (افغانستان او پاکستان) په پوله ګډون کړي وو او يو اوښي يې چي د دي خور ورته ناسته وه په دي جنګ کي د ګل ملک په نامه شهيد شو چي بيا به د شاهي نظام له خوا دوي کورنۍ ته نقدي پيسي ورکول کيدي.

لکه څرنګه چي د ظاهر شاه د حکومت په وخت کي د څو تنو کونړو تورسري د هغه وخت امنيه قوماندان بهرام خان د دره نور وو او غوښتل يې چي ولسوالي ته يې بوځي او تاسي ته معلومه ده چي د پښتون تور سري حکومت ته بيول د پښتنو لپاره د ننګ او غيرت خبره وه او يو لوي شرم وو او دي چي په همدي وجه حاجي خداي رضا او حاجي علي رضا به کمک او زور سره هغوي پري نه ښودلي چي حکومت ته يې بوځي او هغه يې خپلو کورونو ته وسپارلي.

حاجي خداي رضا او حاجي علي رضا ډير زيات په وطن او دين مئين خلک و او تل به يې دا کوښښ کاوه چي د غريبانانو او بي وزلو ملاتړ وکړي چي له جملي څخه يوه قيصه په لنډ ډول ذکر کوم

په کال ۱۳۲۰ کي د يو مظلوم او عاجزه کونړي په سر دوي ننګ وه کړ نو تاسي ته معلومه ده چي يو سړي مقام او منصب ولري لکه څنګه چي دوستان لري دغسي دشمنان هم لري دوي پسي د غره خلک هغه وخت کي ډير په قوت کي وو خلک ورته د قران پاک په سر عذر ته ورغلل او د دروغو تهمت چي دي خلکو بدون د دي نه چي پلټنه وکړي لښکر وتړه او په دويي د بريد پلان جوړ کړ چي د





حکومت هم په غه وخت سره په دي خلکو زور نه رسيده نو دويي په دا خاطر چي بي ګناه خلکو ته مرګ ژوبله وانه وړي د شپي د خپل کلي نه لغمان خواته حرکت وکړ او دوي خلکو په کلي کي چي څومره خپلوان وو کورونه وسوزول او د دوي په کلا باندي يي د اوبو لښتي سم کړ او بعضي ديوالونه يي راوغورزول چي دوی يوکال په لغمان کي ژوند کاوه څرنګه چي په دوي کي ګناه نه وه او دوي د غره خلکو سره روغه جوړه وکړه او په سنه ۱۳۲۱ کي بيرته خپل ټاټوبي ته راستانه شول او خپل ژوند يي په کونړ کي اختيار کړ او بيا حاجي خداي رضا په سنه ۱۳۴۸ د هغه وخت د مشرانو او شاهدانو له خولي چي په جرګه کي ناست وو او خاتمه يي د شهادت کلمي په ويلو شروع وکړه، کټ ته پورته شو او سترګيي د دي فاني دنيا نه پټي کړي.

انا لله و نا اليه راجعون

په ګور يي نور شه
تل تر تله په ښه نام پاي ښاغلي

حاجي علي رضا چي د خپل مشر ورور غوندي ديندار او با شهامته مجاهد وو د ژوند تر اخره سلګي پوري په خپل وطن معين او مسلمان انسان وو چي د ډيرو خلکو د خولي دا بيان دي چي د لمونځ قضايي د څواني نه تر مرګه پوري نه وه کړي، د هميش لپاره يي د ريښتني مجاهدينو خدمت کاوه او مادي او معنوي مرستي به يي ورسره کولي

د مثال په توګه به يي يوه لنډه کيسه تاسو ته دغني شاهدانو د خولي نقل کړم

يوه ورځ د ثور انقلاب کي څو تنه مجاهدين په شهادت رسيدلي وو او مربيي ولسوالي ته وړي وو او کله چي حاجي صيب خبر شو د څو تنو سپين ږيرو سره ورغي د هغه وخت وو چي روسان هم وو نو ولسوال ته يي وويل چي دا کونټي به دي په خيته کي ننه باسم چي مړي دي کړل نور دي نه څه حق دي او غږيي وکړ چي اوچتي کړي جنازي او لاس دي د ټولو خلاص وي جنازي اوچتي شوي نور نو چا ورته غږ وه نه کړو او مخ په کلي يي حرکت وکړه ي دا وخت کي يوه سبين سري ښځه ولاړه وه او په اوچت اواز کي غږ وکړ چي هري مور ته دي خداي داسي نر زامن ورکړي او جنازيي کورنيو ته وسپارلي او په کال (۱۳۶۵) چي د خپلو خمکو او دهقانانو ليدنو ته روان وو د (۷۵) کلونو په عمر د بي غيرتو خلکو له لاسه د خپلو ځمکو په سر بي ګناه شهيد کړل شو شهادت دي ورته مبارک وي

دوي دواړه حاجي صاحبان به دين مئين علم او تعليم ته يي ډير زيات اهميت ورکړه چي د حاجي علي رضا نه دوه زامن او اووه لوڼي پاتي شوي

مشر زوي يي ډاکټر يعقوب رضا، چي ابتدايه زده کړيي په کونړ او پاتي زده کړي د کابل خواجه عبدالله انصاري ليسه کړي پاي ته ورسولي او اول





نمره فارغ شو او بيا د طب پوهنځي ته کامياب شو او د عالي زده کړو لپاره روسي ته لاړ چي دوکتورا او (پي ايچ دي) د روسيه والګاګراد ښار د پوهنتون نه يي واخيستله چي فعلاً په بلجيم کي اوسيږي

دوهم زوييي ډګروال محمد فاروق خان دي چي د کنړ ليسي د دولسم ټولګي نه فارغ شو او وروسته بيا د هوايي پوهنتون د هليکوپترو د پيلوټي سند تر لاسه کړ.

د مرحوم حاجي خداي رضا نه اووه زامن او شپږ لورګاني پاتي دي چي په لاندي ډول دي

- مرحوم احمد رضا خان
- مرحوم الحاج ډګروال صالح الله خان
- ډګروال حضرت الله خان
- مرحوم ډګروال مرتضي خان
- مدير امان الله خان
- مدير عطاء الله خان
- مرحوم انجينر مطيع الله خان

د مثال په توګه د حاجي خداي رضا د زامنو په يو څوي خلص سوانح د اردو د مجلي نه د نقل په توګه يادوم

مرحوم متقاعد ډګروال صالح الله خان مومند د مرحوم حاجي خداي رضا زوي په سنه ۱۳۲۵ لمريز کال کي د کونړ ولايت د (خاص کونړ) ولسوالي په صاحب جم کلي کي زيږيدلي او ابتدايه زده کړي د کونړ په ابتدايه کي تر شپږم ټولګي پوري کړي او په کال ۱۳۳۸ لمريز د حربي ښوونځي (مکتب ليسه) کي شامل او وروسته د حربي ليسي د فراغت نه په کال ۱۳۴۵ لمريز روسيي ته د نظامي عالي تحصيلاتو په مقصد د پيلوټي مسلک زده کړي لپاره ولاړ د دري کالو تحصيل نه وروسته په کال ۱۳۴۷ کي د پيلوټي (کشف پروازي) دويم بريدمن به رتبه د افغانستان اردو (د قواي هوايي او مدافعه هوايي) کي شامل او په دنده يې پيل وکړو چي ۳۵ کال يې پرله پسي په بيلابيلو طيارو کي (ال ۱۴ ال ۲۸ ان ۲۶ ان ۱۲) په صفت د پروازي کشاف په بيلابيلو شرايطو کي ډير به ميړانه شجاعت او صداقت وظيفه اجرا کړي چي د افغانستان ګوډګوډ ته او خارجي ملکونو ته يې پروازونه کړي چي په خپل ريکارډ يي ۱۲۲۰۰ ساعت پروازونه کړي بيلابيلو نظامونو لخوا ورته بيلابيل دولتي ميډالونه دولتي نشانونه او بري ليکونه ورکړل شوي او به لسګونه زده کوونکيي روزلي مرحوم ډګروال صالح الله خان په مختلفو بستونو او پروازي قطعو کي سرکشاف د ټولي، کندک، غند او سرکشاف د هوايي او مدافعه هوايي په حيث دندي تر سره کړي چي د دي دروند مسؤليت سره سره د نوموړي قران پاک شپاړس سپاري لمړي څخه شپاړسمي پاره پوري حفظ کړي وي چي تل به يي د دندي پر مهال د تلاوت قران پاک وظيفه کوله په





تاسف سره نوموړي د ۶۴ کلني په عمر د دي فاني دنيا نه سترګي پټي کړي. روح دي ښاد وي.

انالله و انا اليه راجعونه

د مرحوم ډګروال صالح الله خان دوه زامن او اووه لورګاني پاتي دي

مشر زوي يي الحاج حشمت الله (بريالي) رضا چي د پوليتخنيک د دويم کال محصل وو چي د خپل منځي خونړي جګړي او عمله د وطن نورو خوانانو په شان د پاتي تحصيل څخه محروم شو او دي ته اړ شو چي وطن پريږدي او بيا يې د ملک نه بهر، ازاد تجارت ته مخه وکړه

انجينر فرهاد الله رضا چي د پولي تخنيک پوهنتون د مافوق ليسانس په کچه فارغ او وروستي د هندوستان څخه د ماستري په کچه په خپله رشته کي (ودانيزي انجينيري) سند تر لاسه کړ.

د حاجي خداي رضا يوه لور د ننر په کلي کي مرحوم الحاج عبدالجليل ملنګ چي په خاص کونړ کي مشهور شخصيت باندي واده ده.

چي د دي دري زامن دي چي د مور له خوا د حاجي خداي رضا لمسيان دي

داکټر لونګ
ډاکټر اکرام (غاښو)
ننګيالي ننګ

په دي ليکنه کي مو څکه د هغوي د زامنو او ځيني لمسيانو ذکر کړي او دغه کورنۍ ډيره لويه ده د حاجي خدای رضا او حاجي علي رضا ډير لمسي، او کړوه سي او خپلوان ډير زيات دي چي د ټولو د نومونو او پيژندڼي ليکل مضمون اوږدوي خو د کورنۍ هر غړي يې په خپل ځاي محترم او د عزت ځښتن دي نو د مثال به توګه مي د څو تنو نومونه ذکر کړي چي خلکو ته په ډاګه شي چي ټول د علم او د قلم خاوندان دي په وطن مئين ديندار او د خپل ولس خادمان دي نه پکي د خداي په فضل نه غل، ډاکو او يا جاسوسان شته.

دا وه د الحاج خداي رضا او الحاج علي رضا د کورنۍ لنډه پيژندنه د درنو لوستونکيو نړۍ مننه

سرلوړي او ودان دي وي افغانستان
خلانده دي وي زمونږ مشران

او په پاي کي
د خداي بخښليو حاجي خداي رضا او حاجي علي رضا چي د خاص کونړ مخور او سپين روبي مشران وو او اوس به دي دنيا کي نه شته
به ياد نظم
چي ژوند يي نوراني وو تري ختله به رڼا
د حاجي علي رضا

راودانګل او ده کم وخت کې چاربیتي ، نیمکۍ ، بګتۍ ، مقامونه او نور فورمونو کې خپل اشعار وویل دایي ولسي شاعري ده. او بل خوا د غزل شاعري ده چې د کلام د ښایست او ښکلا د پاره د هر فورم یعنې استعارې ، تشبیهات او کنایي په برخه کې اشعار ویلي او د هغړې په واسطه یې خپل اشعار ښایسته کړي دي 5 د خاطر اشعار د شکل له مخې په غزل ، لوبې ، بګتۍ ، مقام ، چاربیتي ، نیمکۍ او فورمونو باندې ویلی شو. د افریدي د غزل په برخه کې ویلی شو چې خاطر د غزل د جزبې د فکر د شعور او هم د تغزل د فن هغه خبې لري چې کوم غزل ته نه یوازې مقام ورکوي بلکه پرې غزل بلل کیږي. د خاطر غزل د هر پښتون زړه پریوځي او د انسان په زړه کې یې نیولی داځکه چې شاید د لاندې اوصافو له برکته دي:

افسوس ستا په خیال کې څه ښکارم

دغه ارمان به مې په زړه پاتې شي

د خاطر په کلام کې عشقي کیفونه او خوندونه د هغې د اشعارو او مرکزي خوبي ده ځکه ده ټول اشعار د عشق ځیني ډک او دغه عشق تر لوړې درجې پورې رسیږي. کله کله خاطر خپل یار ته د خطاب په ژبه باندې هم وایي او یار او یا مخاطب ګرځوي او خپل یار د رڼا سره ورته کوي او خپل ځان په مقابل کې ړوند احساسوي.

خیر دی دا زما سترګې که بدې دي

ته خو راته ګوره په داښو سترګو

زه یم چې د زړه په سترګو تاوینم

چارښا لیدلې په ړندو سترګو

خو بلاخره دا ویلی شو چې اپریدي صاحب پخپلو اشعارو کې هر څه د یار بیان کړي کله خفه کیږي او کله ګیله من کیږي او کله کله د یار غمونه هر څومره چې په ده باندې انبار وي خوشحالي څرګندوي 6





ب، د خاطر اپریدي شعرونه او محتوا:

چې د زړه کورته دې راشي پروا مه کړه اې
خاطره تل خاطر د مېلمنو شي

د شعر هر مضمون د شاعر د فکري صلاحیتونو ترجمان دی او هر شاعر د مقام او فني اهمیت له مخې خپله درجه لري هم د فن په لحاظ او هم د مقبولیت په لحاظ. دا ښکاره خبره ده چې هر شاعر د ژوند هره برخه که هغه عشقي ده که تصوفي ده که اخلاقي ده او که نورې برخې دي په خپلو اشعارو کې راوړي. مخکې د خاطر په اشعارو کې څه نا څه خبرنه وشوه او په کې معلمه شوه چې د افریدي د شعر اصل او بنیاد عشقي دی او خپلو اشعارو کې یې عشق پاللی او د عشق په جامه پسوللی دی. شاعر خپل اشعار د استعارې ، کنایي ، تشبیهاتو ، طباق ، حسن تعلیل ، عارفانه تجاهل ، تلمیح او داسې نورو صنایعو په راوړلو سره ښایسته کړي دي عینې د بدیع ښکلا او هم د بیان د صنایعو په راوړلو سره خپل کړي دي. د خاطر شاعري عشقي ، ساده او بې ساخته ده تخیل یې که څو عالمانه فلسفیانه نه دي خو د شعر بندش یې دومره بې ساخته او زړه راښکونکی دی چې لوستونکي ترې سر نه شي څرګنده ولای. ده في البدیه شعر هم ویلی دی ځکه دی یوه ورځ په باغ کې تخمونه کري نو سم دلاسه خولې ته دالاندې بیت ورغلی دی:

زه چې تخمونه د ګلانو کرم

څه معشوقې د بلبلانو کرم

ددې تر څنګ مراصیله شاعري یې هم کړې ده او په هره مشاعره کې به په ده باندې مجلس جوړاوه او شاعران به ترې تاو وه او ده به د ټوکو په شان هم اشعار ویل. ځیني وخت کې د یار مینه په ده باندې ډېره غلبه کوله او د هغې د نشتوالي په وخت د خولې څخه داسې





فریاد کوي.

کله چې په فکر کې داستا شمه

لاړشمه د ځانه خوبیا راشمه

تاو مې شي د زړه نه ستا د مخ لمبې

ګه چې د د زلفو په سودا شمه

ده په خپلو اشعارو کې تصوفي برخه هم ستایلې ده او د حضرت محمد (ص) اوصاف یې بیان کړي دي لکه چې وایي:

کاني بوټي د دیار د محمد (ص)

ماګنیلي په دیدار د محمد (ص)

دي یاران ددې جهان د نیمې لارې

عبادت کړه چې شي یار د محمد (ص)

کرنګونه به یې لارې شي په مخکې

که یار نیولې لار د محمد (ص)

ددې سره ده په خپلو اشعارو کې خوشحال هم ستایلی او د هغې تر څنګ د وطن په غم هم غمجن شوی او د خیبر په باره کې یې هم اشعار ویلي دي. بل د پښتو د اتفاق په باره کې هم خپل خورا ښه اشعار ویلي دي لکه وایي چې:

که چیرې یو شي سره واړه ورتـــه
ګـــــلونه به شي شاړه

دښمن به خې ترینه پرغاړه ورته به جوړ په
خړغرونو ګلستان شي

یـــو چې مـــــسلـــمان شـي

دا چې زما اصلي موضوع د خاطر په اشعارو کې معنوي ښایستونه دي نو نور په دې برخه کې د څیړنې نه تیریږم او خپلې اصلي موضوع ته راګرځم خو دا چې زما موضوع د ادبي فنونو د بدیع په برخې پورې اړه لري لومړی باید په بدیع باندې وغږیږو او ځان پرې پوه کړو.





په دغو خپلو او پردو څه وکړم

په پورته بیت کې د تعریف معمول شاعر په خپل کلام کې دوه متضاده کلمې (خپل او پردي) راوړي دي او د طباق ښایست یې منځ ته راوړی دی. یا په لاندې بیت کې:

کرم چې د وصلت طمع ماته د هجران څه دي

څوک چې شي یتیم اسیر هغونه ګریان څه دي

په پورته ذکر شوي بیت کې شاعر دوه متضاد (متقابل) الفاظ چې عبارت له (هجران او وصال) څخه دی ذکر کړی دي کله چې شاعر دغسې کلمې پخپل کلام کې راوړي او خپل کلام پرې ښایسته کړي د طباق ښایست جوړوي.

طباق درې ډولونه لري چې په لاندې ډول ښودل کیږي:

۱ _اسمي طباق

۲ _فعلي طباق

۳_سلبي او ایجابي طباق

۱ _اسمي طباق:

لکه په لاندې بیت کې:

تل مې ژړا سهي خندا نه سهي

دا ستا جفا سهي وفا نه سهي

په پورته بیت کې شاعر متقابلې کلمې د ( ژړا ، خندا ، وفا او جفا ) رآوړي دي آو طباق ښایست یې جوړ کړی دی. کله چې شاعر په خپل کلام کې دوه داسې متقابل الفاظ راوړي او خپل کلام پرې ښایسته کړي نو د طباق جوړوي.

یا لکه په لاندې بیت کې:

د بدیع علم بدیع په دریمه هجري پیړۍ کې دریاسم عباسي خلیفه زوی ابو العباني عبدالله منځ ته راوړ ځنګه چې په عربي کې د ځانه نوي شي ایستلو ته بداعه یا بداعت وایي نو په عربي باندې یې هم بدیع نوم کیښود . نوموړي د بدیع د علم (۱۷) فنونه منځ ته راوړي . د ده څخه وروسته قدامه بن جعفر منځته راغی او خپل کتاب د نقد قدامه په نوم کتاب جوړ کړ او په دغه (۱۷) فنونو (۱۳) نور هم ورزیات کړل . په دریم قدم کې ابوصلال عسکري منځته راغی او (۵) فنون یې نور هم په کې زیات کړل او د بداعت اصول لکه د ایجاز ، اتناب ، فصاحت ، بلاغت او نور په کې راوړل او د الضاعتین په نوم یې کتاب منځ ته راوړ7.

د بدیع تعریف : بدیع هغه علم ته وایي چې د کلام غیر واجب ښکلا او تحسین ډولونه پرې معلومیږي . بدیع علم په دوو برخو ویشل شوي دي . چې اولې برخې ته یې معنوي ښایستونه وایي او د دوهمې برخې ته لفظي ښایستونه وایي چې هره برخه یې بیا بیلا بیل ډولونه لري، څه رنګه چې زما موضوع ي، ازې د خاطر افریدي په اشعارو کې معنوي ښایستونه دي نو زه هم یوازې د خاطر په اشعارو کې معنوي ښایستونه څېړم، چې په لاندې ډول دي: د خاطر افریدي په اشعارو کې معنوي ښایستونه : هغه ښایستونه دي چې د مانا رعایت په کې شوی وي نه د لفظ یعنې په لفظ پورې اړه نه لري او په لاندې ډول دي.

طباق : د متضادو کلمو راوړل یا د متضادو لغتونو ، اسمونو ، صفتونو او یا د فعلونو راوړل پخپل کلام کې عبارت له طباق څني دي.

د خاطر افریدي لاندې شعر وګورئ:

تا خو د ځان کرمه ای ځانه زما





خپلې خندا ته ګوره

زما ژړا ته ګوره

خپلې جفا ته ګوره

زما وفا ته ګوره

پورته بیت هم د تیر بیت په څیر دی یعنې په پورته ذکر شوي بیت کې هم شاعر متضادې کلمې (خندا ، ژړا ، جفا او وفا ) راوړي دي.

خو کله چې شاعر په خپل کلام کې داسې کلمو او الفاظو کارونې څني کار واخلي نو د معنوي ښایسونو د جملې څخه اسمي طباق جوړوي.

زړه په دې نه دی چې ناولی مخ دی

چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلی مخ دی

په پورته بیت کې شاعر دوه متقابل صفتونه (ښکلی او ناولی ) راوړي دي . خو کله چې شاعر دوه داسې متقابل صفتونه په خپل کلام کې راوړي نو د ښایست پر لحاظ ورته طباق او په طباق کې اسمي طباق وایي.

که شړلي یې غمونه کوربانه دي

خیر دی خیر دی ستا غمونه میلمانه دي

شاعر په پورته بیت کې دوه متقابل الفاظ چې عبارت له میلمانه او کوربانه څیني دی راوړي دي او د طباق ښایست یې منځ ته راوړی کله چې شاعر داسې الفاظ او کلمې په خپل کلام کې راوړي نو د ښایست په لحاظ ورته اسمي طباق وایي
.

۲ _فعلي طباق:

د خاطر اپریدي لاندې بیت د نمونې په توګه وګورئ:





چې مې سلګۍ بې واره ځي او راځي

دغه د ستا د تلو راتلو ننبې دي

په پورته بیت کې شاعر دوه متقابل فعلونه چې ( تګ او راتګ ) څیني عبارت دي راوړي دي او فعلي طباق یې رامځته کړی ده.

کله چې شاعر په خپل کلام کې دوه دغسې متقابل فعلونه سره راوړي نو د ښایست په لحاظ ورته فعلي طباق وایي.

۳ _سلبي او ایجابي طباق:

لکه په لاندې بیت کې:

په دارو د طبیبانو نه جوړیږم

پرې جوړیږم چې د میني بیمار وینم

په پورته بیت کې شاعر جوړیږم او نه جوړیږم دوه متقابلې کلمې راوړي دي او د طباق صنعت یې منځ ته راوړی دی . کله چې شاعر په خپل کلام کې داسې دوه متقابل الفاظ چې د یوې مادې څیني وي او د مثبت او منفي یا امر نهې په صورت سره راوړي نو په طباق کې سلبي او ایجابي طباق جوړوي.

همدارنګه وګورئ چې شاعر دغه لاندې بیت ته د صنعت په څومره هنرمندانه انداز کې راوړی.

څه که ته یې ناقرار زما همدمه

زه په دې ناقرارۍ کې قرار وینم

په پورته بیت کې شاعر دوه الفاظ چې البته یو د بل پر ضد واقع شوي او عبارت دی له اقرار او ناقرار څیني راوړي دي.

دا چې دغه الفاظ دوه متقابل صفتونه دي او د یوې مادې څیني خو د امرنهې په راغلي نو سلبي او ایجابي طباق یې منځ ته راوړی او یا لکه په لاندې بیت کې:





سوی مې د سترګو ړندوي چې درته نه ګورم

که ډیر درګورمه خو دارنګه زینت کوم دی

پورته بیت کې شاعر دوه متقابل فعلونه (درګورم ، نه ګورم ) د مثبت او منفي په شکل سره راوړي دي . کله چې شاعر په خپل کلام کې دغسې ادبي نزاکت راوړي نو د ښایست په لحاظ ورته سلبي او ایجابي طباق وایي.

او یا لکه په لاندې بیت کې:

داسې راته ګورې لکه نه چې راته ګورې

نیغ مې د زړګي وځې کاږه چې راته ګورې

په پورته بیت کې شاعر بیا د ګورې او نه ګورې دوه متقابل فعلونه راوړي دي خو د یوې مادې څخه دي او د مثبت او منفي په شکل راغلي دي . نو کله چې په یو بیت کې داسې الفاظ سره راوړل شي نو سلبي او ایجابي طباق جوړوي.

مراعات النظیر:

لکه په لاندې بیت کې:

داستامخ لکه افتاب پټ په وریځ کې

پرې راخور د زلفو جال ووته اوده وې

په پورته بیت کې مخ د مخ سره مناسبې کلمې لکه زلفې او د زلفو جال راخوره ول او بیا په خپله مخ د افتاب سره په روښنانایی کې مساوي کول چې وریځ هم ورسره تړلي وی ډیرې مناسبې کلمې دي .یعنې کله چې شاعر په یو بیت کې څو الفاظ ذکر کړي او بیا ورته په دوهم نیم بیتي یا دوهم بیت کې د هغې سره مناسبې کلمې یا مناسبات او ملایمات راوړي نو د مرات النظیر ښایست جوړوي
.

سپوږمی په شپه ښایسته ده توره شپه هم په سپوږمی

زلفې يې تيارې مخ يې رڼا ګوره

په پورته لومړی نیم بیتي کې شاعر شپه او ورځ راوړی ، خو وروسته بیا په دوهم نیم بیتي کې د هغې مطابق ماناوې یا کلمې لکه تیاره او رڼا راوړي دي. یعنې کله چې شاعر په لومړی نیم بیتي یا لومړي بیت کې څنې کلمې د اجمال په صورت راوړي او بیا وروسته په دوهم بیت یا دوهمه نیم بیتي کې د هغې متعلق څه نورې ماناوې راوړي د ښایست په لحاظ ورته لف او نشر وایي. بل دا چې په نوموړي بیت کې د طباق البته اسمي طباق صنعت هم موجود دی.

لف او نشر صنعت هم په دوو برخو ویشل کیږي چې یوه یې مرتب او بل یې غیر مرتب لف او نشر دی8.

د مرتب لف او نشر مثال په لاندې ډول دی:

۱ _مرتب لف او نشر:

چې دې ګورم تورو زلفو سپین رخسار ته

توره شپه ده سپین سبا را یادوي

په پورته لومړی نیم بیتي کې شاعر تورې زلفې او سپین رخسار راوړي دی خو وروسته د هغې متعلق توره شپه او سپین سبا په دوهم نیم بیتي کې راوړي یا ذکر کړی دی. خو داچې د دوی تر منځ یا تفصیل یې د اجمال سره په ترتیب کې برابره ده مرتب لف او نشر دی. یا لکه په دې لاندې بیت کې.

مرګ او بیلتون دواړه جوړه راغلي

خاطره دا واخلم که دا واخلم

په پورته بیت کې مرګ او بیلتون ذکر شوی خو بیا وروسته یې د مرګ لپاره لومړی (دا) کلمه او بیلتون لپاره یې دوهم د (دا) کلمه ذکر کړی دا چې ترتیب یې





ستا مخ د تورو زلفو د غنچو سره جوړیږي

په پورته بیت کې اول سپوږمۍ او بیا ورسره شپه چې شپې کې سپوږمۍ وي همدارنګه مخ د مخ سره تورې زلفې او بیا د زلفو غنچې چې ډیرې ښکلې او مناسبې کلمې راغلې دي او مراعات النظیر صنعت یې منځ ته راوړی. همدارنګه یوه ښکلې تشبه هم په کې شته چې هغه د تورو زلفو غنچې کې موجوده ده او موکده تشبه بلل کیږي.

ستا محبت دی لکه اور داسې

زما یې رنګ کړو لکه سکور داسې

په پورته بیت کې محبت ذکر شوی چې د محبت سره مناسبې کلمې اور هم راغلی ده یعنې محبت خامخا اور وي او وروسته د دغې اور په واسطه سړي رنګ توریږي اور سکور په شان ګرځي. نو کله چې شاعر په خپل کلام کې داسې مناسب الفاظ سره راوړي د مراعات النظیر صنعت جوړوي.

کور او کلی همیشه په غټو زړو شي

هم په ښه ډیره دنیا او په سړو شي

ریښتیا خبره ده چې د کور او کلي دودونه رواجونه چې بعضې مشکل هم وي هغه څوک کولی شي چې ښه غټ زړه ولري ښه دنیا ولري او میړونه هم موجد وي د کور او کلي دودونه د هغې سره مناسبه کلمه ښه سړی د ښو سړیو غټ زړه د غټ زړه سره ښه دنیا ټول هغه کلمات دي چې یو د بل سره مناسبت لري نو په یو بیت کې د دغسې مناسبو کلمو راوړل د مراعات النظیر ښایست منځ ته راوړي.

لف او نشر:

لکه په لاندې بیت کې:

چا سره یو ځای لیدل شپه او ورځ





سره سم دی نو مرتب لف او نشر یې بولي

.

۲ _غیر مرتب لف او نشر:

لکه د خاطر په لاندې بیت کې:

راته ښکاریږي مخ او زلفې د یار

په تورو شپو کې سپین سحر ګډ شوی

په پورته بیت کې لومړی مخ او زلفې ذکر شوی او بیا وروسته د مخ لپاره تورې شپې او د زلفو لپاره سپین سحر راغلی دی. دا چې ترتیب کې برابر نه دی یعنې اجمال په تفصیل سره په ترتیب کې برابر نه دی نو غیر مرتب لف او نشر یې بولي9

.

توریه:

۱ _مرشحه توریه:

لکه په لاندې بیت کې:

چې یو یو غم د را په زړه کړم اشنا

د سمندر غوندې چې تیرې شوې

په پورته بیت کې د سمندر حکم شاعر په خپل شعر کې راوړی ده او سمندر دوه ماناوې لري چې یوه مانایې هغه د اور چنجی دی او بله مانا یې لوی سیند دی. داچې داسې کلمې یا الفاظ په یو بیت کې راوړل شي نو خامخا سړی په وهم اچوي او دغسې دوهم حالت یادوي توب حالت توریه ده خو دا چې د ظاهري مانا سره متناسبې کلمې په وینا کې موجودې وی مرشحه توریه بلل کیږي.

۲ _مجرده توریه:

لکه په لاندې بیت کې:

ستا د ښایست په تصور کې یې ژوندون جوړ دی

چې په ریښتیا خو سمندر وي له انګارنه





وځي

په پورته بیت کې د سمندر څنې هغه لرې مانا چې د اور چینجی دی مراد ده او دهغې سره مناسبې کلمې لکه انګار هم موجودې دي او د ظاهري مانا سره مناسبې کلمې نه شته نو مجرده توریه بلل کیږي.

حسن تعلیل:

لکه د مصري خان افریدي په لاندې بیت کې:

یار چې خوب کا په سپین مخ زلفې خورې کا

توره شپه شي په تمام جهان تیرې کا

په پورته بیت کې شاعر وایي کله چې یار ویده کیږي نو خپلې زلفې په مخ باندې راغوړوي خو کله چې دغه زلفې په مخ باندې ولویږي ددې سبب کیږي چې ټول جهان د هغې څیني تیاره شي ، خو په حقیقت کې داسې نه کیږي بلکه یو مناسب غیر حقیقي مګر لطیف علت یې راوړی دی.

لکه په لاندې بیت کې:

په ماشپه شي چې شانه په مخ زلفان کړې

د سبا په انتظار مې سپین چشمان کړې

په پورته بیت کې شاعر وایي کله چې یار خپل زلفان په مخ باندې شانه کوي نو په ما باندې شپه شي او د سبا په انتظار کې ناست وم خو په حقیقت کې داسې نه کیږي مګر غیر حقیقي لطیف علت یې راوړی دی.

لکه په لاندې بیت کې:

شمیرل چې دې نه شمه خالونه د جبین

بیلتون مې ډیر ګردونه په چشمانو ایښي دي

په پورته بيت کې شاعر وايي د ستا جبين يا تندي خالونه چې زه نه شم شميرلی دا علت د دې دی چې بيلتون زما په سترګو ډير ګردونه غورځولي نو ځکه د هغې د شميرلو نه زه عاجز يم يو لطيف علت دی.

عارفانه تجاهل:

داستا بانه وو او غشی د چا

شکمن په دغو ګذارونو کې يم

په پورته بيت کې شاعر د يار په بڼو باندې ځان نا ګمانه اچولی او وايي چې نه پوهيږم ستا د بانه دی او که د چا غشي و چې ګذارونه يې کول نو ځکه وايي چې زه په دې باندې نه پوهيږم خو په حقيقت کې پرې پوهيږي چې څه شي دی. کله چې شاعر په خپل کلام کې دغسې ادبي نزاکت مراعت کړي نو د ښايست په لحاظ عارفانه تجاهل وايي 10.

سوال او ځواب:

لکه په لاندې بيتونو کې:

ما وې ځان راته اشنا داستا په څير دی

دې وې وروسته به ته پوه شې سوی خير دی

دې وې زړه به د کا ځيرې زما زلفې

ما وې ستا هر يو کليپ ورله کوشيردی

دې ويل ته خو بيا رامخ شه که پښتون يې

ما ويل هر پښتون پخوا د سره تير دی

ما ويل زه خاطر دې يم هر وخت په طمع

دې ويل دلته راشه کښينه غم خو ډير دی

په پورته بيتونو کې شاعر خپل کلام د سوال او ځواب په توګه راوړی دی. يعنې کله چې يو شاعر خپل کلام کې په لومړی





نيم بيتي کې پوښتنه وکړي او په دوهم نيم بيتي کې وروسته بيا د هغې ځواب هم راوړي سوال او ځواب صنعت جوړوي.

حسن مطلع:

لکه په لاندې بيت کې:

سپينه خوله خو يو ځل راکړه په پرده کې

ما يې کړی دی آرمان په يوه موده کې

لکه بلبل په نوبهار کې چې ګلانو له ځي

زړګی مې دغسې صحنه ستا لبانو له ځي

بيګا ستا په انتظار مې هسې سترې تولې شپه کړه

خندل را پورې ستورو سپوږمی راته ګيله کړه

پورته بيتونه په داسې شکل سره شروع شوي چې ويونکی مجبور کيږي تول شعر تر آخره تول ولولي. کله چې شاعر خپل کلام په داسې ډول شروع کړي چې ويونکی يا لوستونکی دې ته مجبور شي تر آخره يې بيا پوره ولولي نو دغسې صنعتونه د ښايست په لحاظ حسن مطلع وايي.

يا لکه په لاندې بيتونو کې:

ګرځيږي راهزنان د بدرګو سره راځه

هم تاراته ويل چې د جرګو سره راځه

منظر مې شو جانانه دا کاږه واږه کاته ستا

مسکی لکه نرګس شه د غمزو سره راځه

قاصده چې خفه يې نن څه شوي زر وايه

که يار وي مرور د خنديدو سره راځه

د لوږې تندې مړ شمه نو هله راشې ته





اختره که تکړه يې د روژو سره راځه

خاطر به ورته ګوري زير زير ووايه چې ښه

اشنا ته د ميږي په قدمو سره راځه

تکرار حسن:

لکه د خاطر په لاندې بيتونو کې:

دريغه دريغه چې يو خړ خوشې ميدان وي

څه به ښه وی چې يو زه او بل جانان وی

دا چې اوس په زحمتونو باندې نه شي

دا مشکل مشکل به څه راته آسان شي

يا لکه:

چې مين په سترګو سترګو کې حيران شي

د هغو نه پس په زړه کې سره ګران شي

يالکه:

اننګې دې داسې سره لکه منې

زما اوښکې تويوي رنې رنې

يالکه:

که خبر وی د بيلتون له سختو سختو

ما به نه وی د وصال په تال ځنګلی

په پورته بيتونو کې په ترتيب سره (دريغ ، دريغ ، مشکل ،مشکل ، سترګو ،سترګو ، رنې ، رنې ، سختو سختو ، هغه ادبي الفاظ دي چې شاعر د يو ځل په ځای دوه ځله راوړي دي کله چې شاعر داسې کلمات دوه ځله يا زيات سره راوړي د دې لپاره چې خپل کلام پرې ښايسته کړي نو تکرار حسن يې بولي.

التفات:

په لغت کې د سترګو په کونج کې کتلو ته وايي او په اصطلاح کې عبارت لارې روانۍ ته تغير ورکول دي11.

التفات په شپږډوله دی چې د هغو ډولونه په





لاندې ډول واضيح کيږي:

١ _د غائب څخه مخاطب:

لکه په لاندې بيت کې:

نن يې چې خالونه تازه کړي دي

زړه جوړې داغونه دي زاړه ښکاري

په پورته بيت کې شاعر غائب ته اشاره کوي او وايي چې نن دې بيا خالونه تازه کړي خو وروسته په دوهم نيم بيتي کې بيرته د هغې لوري ځيني ګرځيدلی او مخاطب ته اشاره کړې.

کله چې شاعر د غائب په هکله خبرې کوي او سم د لاسه مخاطب ته راګرځي نو دغه التفات ته غائب څخه مخاطب ته التفات وايي.

٢ _متکلم ته مخاطب ته:

لکه په لاندې بيت کې:

همداسې را يادېږې چيرته ته مې نه شي هير

چې بيا د ننۍ غونډې آدا سره رانه شې

په پورته بيت کې شاعر د متکلم په لاره باندې خبرې کوي خو سم دلاسه د هغې ځيني ګرځي او خپل مخاطب ته اشاره کوي. او وايي چې د ننۍ غونډې آدا سره را نه شي نو دغسې ښايست ته د متکلم نه مخاطب ښايست وايي.

٣ _د متکلم نه غائب:

لکه په لاندې بيت کې:

بيا مې سيزې لکه اور هسې ستا مينه

چې يې ستايم هغه وخت راته ګلزار شي

په پورته بيت کې شاعر وايي چې ستاينه بيا رادريشان سيزې يعنې ځان نه خطاب کوي خو په دوهم نيم بيتي کې هم غائب ته اشاره کوي او د خپلې لارې نه بيرته ګرځي دغسې ښايست ته د متکلم غائب التفات وايي. يعنې په لومړي نيم بيتي کې (مې) ضمير نا خپلواک دی او ځان لپاره استعماليږي خو په دوهم نيم بيتي کې (مې) نا خپلواک ضمير د دريم شخص (غائب) لپپاره راوړل کيږي نو د دغو ضمايرو په واسطه موږ دا حکم کولی شو چې د متکلم نه غائب ته التفات دی.

۴ _د غائب څخه متکلم ته التفات:

لکه په لاندې بیت کې:

زه تماشه شوم چې وحشي يې کړمه

اشنا مې نورې تماشې څله کا

په پورته بيت کې هم شاعر د غائب په پله روان دی او سم دلاسه متکلم نه خپل ځان ته راګرځي او وايي ما تماشې کړې چې وحشي شوم اشنا مې ولې تماشې کوي. نو دا چې د غائب د صيغې نه سم د لاسه متکلم ته راګرځي د غائب نه متکلم ته التفات جوړوي.

۵ _د مخاطب نه متکلم ته التفات:

لکه په لاندې بيت کې:

په ليونتوب دې زما نشي اشنا سود تر اوسه

ژوند مې اختيار په بيابان کړو بل هجرت کوم دی

په پورته بيت کې شاعر د مخاطب په طريقه خبرې کوي يعنې د هغې په پله او لاره روان دی خو د هغې ځيني بيرته ګرځي متکلم ته (ځانته) اشاره کوي چې دغسې التفات نه د مخاطب نه متکلم ته وايي.

۲ _د خطاب څخه غیاب ته التفات:

لکه په لاندې بيت کې:

يوې خندا دې وړی زړه وو زما

لکه ميږی ډيرې پيرې نه کړې

په پورته بيت کې شاعر د مخاطب په لاره روان دی سم دلاسه غائب ته ځي د سياق بدلولو ته التفات او دا چې د مخاطب نه غائب ته وګرځي د مخاطب نه غائب ته التفات جوړوي. يعنې (دې) د مخاطب لپاره نا خپلواک ضمير دی په مخاطب باندې دلالت کوي او د هغې ځيني وروسته غائب ته ګرځي چې (يې) د غائب لپاره ضمير دی.



# Stori ستوری

## قطعه

ماچې د غزل توري راواړول

ستا ښکلا په دې قالب کې نه راتله

تا چې د نرګس په څېر نظر ښکته راواچوو

ډير شوه حيا آدب کې نه راتله

ع - ک

## قطعه

تامرى کې راچولې راته پړی انتظاره

او لحد ته مې راکاږی لکه مړي انتظاره

ستا دکبر په هوس کې راګير شوي يم تاويږم

لکه پورته کړي بوږ بکه يو خسنی انتظاره

ع - ک


**د ستوري استازی**

کابل:.................. عبد الظاهر شکيب
ننګرهار:.................. شفيع ا لله تاند
کونړ:.................. نعمت ا لله کرياب
اسمار:.................. اختر محمد مومند
لغمان:.................. عسکر خان چالاک
باجوړ.................. سيد اغا ميا خېل
پېښور:.................. ذبيح شفق
جرمني:.................. نسيم ستوری



**پته**

د کونړ ولايت، د خاص کونړ ولسوالي، د تنر کلی دستوري د خپرونې اداره

کوټوال: 0772931465
حيات: 0774322484
کوچوان: 0772935377


ستوری مجله د هېچا د ليکنې ننګه نه کوي، هر ليکوال ته بويه، چې د خپلې ليکنې سپيناوی پخپله وکړي ستوری مجله به هغه ليکنې نه خپروي، چې اسلام، هېواد او ملي يووالي ته په زيان تمامېږي.


# Stori ستوری

## خپلواکه، ادبي او کولتوري خپرونه

*****

د امتياز څښتن:د خاص کونړ ادبي او کولتوري ټولنه

مسئوول مدير: عرفان اللهّٰ کوټوال مرستيال: هدايت اللهّٰ حيات

کتنيلاوی: څېړندوی وجيه اللهّٰ شپون څېړندوی عبدالقيوم زاهد مشوانی، عبدالظاهر شکيب



د “ ستوري “ استازي:

کابل: عبدالظاهر شکيب ننګرهار: شفيع الله تاند کونړ: نعمت الله کرياب اسمار: اختر محمد مومند

لغمان: عسکر خان چالاک باجوړ: سيداغا مياخيل پېښور: ذبيح شفق جرمني : نسيم ستوری